# د کلاس D د تمرین پوښتنو ازموینه

(دا یو تمریني ټیسټ دی. دا پوښتنې ممکن واقعیی ازموینه کې وي یا نه وي. د تمرین او د ازموینې پوښتنو ټول ځوابونه د مینیسوټا د ډرایورۍ لارښود کې موندلی شئ). د لاندې ورکړل شوي تمریني ازموینې پوښتنو ځوابونه د مینیسوټا د ډرایورۍ لارښود اړوند څپرکو کې موندلی شئ.

**1.** تاسې کولی شئ د بل موټر څخه مخته واوړئ که چیرې هغه لیکه یا خط چې ستاسې لین د هغه بل لین څخه چې تاسې غواړئ ورته وړواوړئ جلا کوي هغه د ____ لیکه وي.
(ولولئ: څپرکی **5** علامې، اشارې، او د سړک نښې ـــــــ د سړک نښې.)
**a)** مات سپین
**b)** ډبل بشپړ ژیړ
**c)** بشپړ ژیړ
**d)** بشپړ سپین

**2.** کله چې تاویږئ، تاسې باید خپل سرعت _____. (ولولئ: څپرکی **3** ترافیکي قوانین او د وسایطو عملیات – تاویدل.)
**a)** ډېر کړئ
**b)** په خپل حالت کې وساتئ
**c)** بدل کړئ
**d)** کم کړئ

**3.** په سړک کې ستاسو مخې ته د کوم څه راتلو ته د چمتو کیدو لپاره، تاسې باید: (ولولئ: څپرکی **6** د ډریورۍ شرایط – د **SIPDE** سیسټم کارول.)
**a)** په دوامداره ډول ټول سړک او د سړک ټول اړخونه وڅارئ
**b)** په ټولو وختونو کې تل مخامخ سړک ته ګورئ
**c)** داسې ډریوري کوئ چې خپله کیڼ پښه سپکه په بریک کیږدئ
**d)** د سړک په مینځ خپل تمرکز وساتئ

**4.** تاسې په یوه مصروف سړک کې ډریوري کوئ، او ستاسې د موټر ایکسلیټر نښلي یا جام کیږي. تاسې باید: (ولولئ: څپرکی **6** د ډریورۍ شرایط – د ایکسلیټر نښتل.)
**a)** هارن ووهئ
**b)** بریکونه ونیسئ
**c)** دوه ګوني اشارې چالان کړئ
**d)** موټر سویچ مو بند کړئ، پام مو وي چې د سټیرینګ ویل مو لاک نشي

**5.** کله چې کمې پیچلتیا لرونکي څلورلارې ته نږدې کیږئ، تاسې باید کیڼ لاس ته تاو نشئ. (ولولئ: څپرکی **3** ترافیکي قوانین او د وسایطو عملیات – کمې پیچلتیا لرونکي څلورلارې.)
**a)** صحیح
**b)** غلط

**6.** د شپې مهال، لیدل یې خورا سخت وي: (ولولئ: څپرکی **4** د سړک شریک کارول – لیدل.)
**a)** د سړک علامې
**b)** پلي خلک
**c)** نور موټروانان
**d)** د سړک څراغونه

**7.** که تاسې د شپې مهال د سړک غاړې ته ودریږئ: (ولولئ: څپرکی **3** ترافیکي قوانین او د وسایطو عملیات – د لوی لارې تمځای.)
**a)** خپل ټول څراغونه بند کړئ
**b)** یوازې خپل د تم کیدو څراغونه وکاروئ
**c)** یوازې خپل د مخې څراغونه وکاروئ
**d)** خپل بیړني فلش څراغونه چالان کړئ او د ټیټ بیم څراغونه مو چالان پریږدئ

**8**. د لاربنود سپیو یا د سپیني امسا کاروونکي پلي خلک باید: (ولولئ: څپرکی **4**، د سړک شریک کارول – پلي خلکو ته پام کول.)
**a)** یوازې په څنډو کې ورته د لومړیتوب حق ورکول کیږي
**b)** تل په ټولو وختونو کې ورته د لومړیتوب حق ورکول کیږي
**c)** په څلورلارو کې یوازې د ترافیک کنټرول سره له سړک څخه تیریږي
**d)** د نورو پلي خلکو د مرستې پرته هیڅکله باید له سړک څخه تیر نشي

**9**. مخکې لدې چې تاسې د سړک څنډې سره موازي تمځای څخه ووځئ، تاسې باید: (ولولئ: څپرکی **3**، ترافیکي قوانین او د وسایطو عملیات – د لینونو بدلول.)
**a)** هارن ووهئ
**b)** خپلې څلور واړه (غبرګې) اشارې چالان کړئ
**c)** د سر په تاوولو سره موټرو ته وګورئ
**d)** خپل د اړخ شاتني ځار آینې په کارولو سره موټرو ته وګورئ

**10**. د درې یا ډیرو لینونو لرونکي سړک کې ورته لوري ته د سفر کولو پرمهال په __ لین کې پاتې شئ، په استثنا د نورو موټرو څخه مخکې کیدو لپاره.
(ولولئ: څپرکی **3** - ترافیکي قوانین او د وسایطو عملیات.)
**a)** کیڼ لاس
**b)** څنډه (د بیرني دریدو لین)
**c)** مینځ
**d)** ښی لاس

**11**. په لړه یا باران کې د ډریورۍ کولو پرمهال، غوره ده چې: (ولولئ: څپرکی **6**، د ډریورۍ شرایط – په سخت باران یا لړه کې ډریوري کول.)
**a)** یوازې خپل د تم کیدو څراغونه چالان کړئ
**b)** خپل څلور واړه د خطر څراغونه چالان کړئ
**c)** خپل د مخې ټیټ بیم څراغونه چالان کړئ

**12**. د ډریورۍ کولو پرمهال د سګرټ څښلو ته چمتو کیدل او سګرټ څښل: (ولولئ: څپرکی **6**؛ د ډریورۍ شرایط – منحرف ډریوري کول.)
**a)** د ډریورۍ وړتیاو باندې اغیزه نه کوي
**b)** د ډریور بیدارۍ کې مرسته کوي
**c)** منحرف کونکي فعالیتونه دي
**d)** منحرف کونکي فعالیتونه ندي

**13**. الکول ستاسې د ډریورۍ مهارتونو او تشخیص وړتیا (قضاوت) باندې څه کوي؟ (ولولئ: څپرکی **8**، د الکولو یا نشه ییز توکو د اغیزې لاندې ډریوري کول – د ډریورۍ مهارتونو باندې د الکولو اغیزه.)
**a)** دا د ډریورۍ مهارتونو یا تشخیص وړتیا (قضاوت) باندې هیڅ اغیزه نلري
**b)** دا د تشخیص وړتیا (قضاوت) باندې هیڅ اغیزه نلري مګر د ډریورۍ مهارتونو ته زیان رسوي
**c)** دا د ډریورۍ مهارتونو سره مرسته کوي مګر د تشخیص وړتیا (قضاوت) ته زیان رسوي
**d)** دا د ډریورۍ مهارتونو او د تشخیص وړتیا (قضاوت) دواړو ته زیان رسوي

**14**. په ترافیکي څراغ کې ښی لاس ته مخه لرونکی د سور رنګ غشی څه منعي لري؟ (ولولئ: څپرکی **5**، علامې، اشارې، او د سړک نښې – سور غشی.)
**a)** بشپړ ودریدو وروسته ښی لاس ته تاو شئ
**b)** تر هغه وخت پورې چې څراغ شین نشي ښی لاس ته مه تاویږئ
**c)** د ورو کیدو او د موټرو کتلو وروسته ښی لاس ته تاو شئ
**d)** یوازې په هغه صورت کې ښی لاس ته تاو شئ کله چې هیڅ پلي خلک د سړک څخه د تیریدو په حال کې نه وي

# د مینیسوټا د عامه خوندیتوب ریاست
## د ډرایور او وسایطو خدمتونه

15. کله چې تاسي د تمځای څخه د ترافیک جریان یا موټرو مینځ ته ورننوځئ (لکه د سړک د څنډې څخه ورننوتل)، تاسي: (ولولئ: څپرکی **3**، ترافیکي قوانین او د وسایطو عملیات – د لینونو بدلول؛ څپرکی **6**، د ډریورۍ شرایط – د **SIPDE** سیسټم کارول.)
- a) باید **200** فټ پورې د نورو موټرو نسبت ورو ډریوري وکړئ
- b) د نورو موټرو سرعت سره ځان برابرولو لپاره کافي اندازه پراخه تشي ته اړتیا لرئ
- c) باید انتظار وکړئ چې لومړی موټر تیر شي، بیا لین ته ورننوځئ

16. تاسي باید تل خپلې بیرنی اشاري وکاروئ کله چې: (ولولئ: څپرکی **6**، د ډریورۍ شرایط – تم کیدل، پارکینګ؛ شا ته تګ، که تاسي ایسار شئ څه باید وکړئ.)
- a) تاسي د موټرو لین کي بېځایه موټر پارک کړئ
- b) تاسي د پارکینګ په نښه شوي ځای کې موټر پارک کړئ
- c) ستاسي موټر په سړک کې خراب شي

17. د ترافیک څراغ سور دی، مګر د پولیسو افسر تاسي ته وایی چې ورځئ. تاسي باید څه وکړئ؟ (ولولئ: څپرکی **5**، علامې، اشارې، او د سړک نښې – د ترافیکو افسران.)
- a) خپل موټر ته حرکت ورکولو څخه ډډه وکړئ
- b) د پولیس افسر د وینا سره سم حرکت وکړئ
- c) هارن ووهئ

18. که ستاسي عمر کم يي او د ډریورۍ کولو پرمهال ستاسي تلیفون ته زنګ راشي، تاسي باید: (ولولئ: څپرکی **1**، د ډریورۍ لپاره ستاسي لایسنس – د **18** کلونو څخه کم عمر؛ د ډریورۍ لپاره ستاسي لایسنس؛ څپرکی **8**، د ډریورۍ شرایط – منحرف ډریوري کول.)
- a) که تاسي هینډز فري وسیله (په غږ کنټرول کېدونکي وسیله) لرئ ځواب ورکړئ
- b) پرېږدئ چې زنګ د غږیز پیغام حالت ته لاړ شي
- c) که ستاسي د والدین یا سرپرست زنګ وي ځواب ورکړئ
- d) زنګ وهونکي ته پیغام ولیکئ چې تاسي ډریوري کوئ

19. د شپې مهال که چیرې مخامخ را روان موټر د خپل تیز بیم څراغونو ډیم کولو کې پاتي راشئ، وګورئ: (ولولئ: څپرکی **8**، د ډریورۍ شرایط – د مخي څراغونه.)
- a) د سړک مینځ ته
- b) ستاسي د لین ښی څنډې ته
- c) ستاسي د لین کیڼ څنډې ته
- d) خپل لین کې مستقیم مخامخ

20. د دې احتمال ډیر دی چې تنکي ځوان ډریوران د موټرو ټکر کې دخیل وي کله چې: (ولولئ: څپرکی **1**، د ډریورۍ لپاره ستاسي لایسنس – ستاسي لنډمهاله لایسنس.)
- a) هغوی د لوی یا بالغ سپرلیو سره ډریوري کوي
- b) هغوی د تنکي ځوان سپرلیو سره ډریوري کوي
- c) هغوی د سپرلیو پرته ډریوري کوي

21. په باراني، واورین یا د لړې ورځو کې خپل د مخي څراغونه وکاروئ: (ولولئ: څپرکی **2**، ستاسي موټر – د مخي څراغونه او د شا څراغونه؛ څپرکی **8**، د ډریورۍ شرایط – د مخي څراغونه، په سخت باران یا لړه کې ډریوري کول.)
- a) تیز یا فل څراغونه
- b) ترڅو نور ډریوران وکولی شي تاسي ووینې
- c) ترڅو نور د ناوړه شرایطو او موسم څخه خبر شي

**22.** کله چې تاسې ښۍ لاس ته تاویږئ، ستاسې موټر باید: (څپرکی **3**، ترافیکي قوانین او د وسایطو عملیات – تاویدل.)

**a)** د سړک مینځ ته نږدې وي
**b)** د سړک کیڼ اړخ ته څیرمه وي
**c)** د سړک ښۍ اړخ ته څیرمه وي

**23.** کله چې ترافیکي څراغ شین شي، تاسې باید سمدلاسه لاړشئ؟ (ولولئ: څپرکی **5**، علامې، اشارې، او د سړک نښې – شین څراغ.)

**a)** نه، ځکه چې تاسې باید د حرکت کولو څخه مخکې پنځه ثانیې انتظار وکړئ
**b)** هو، که نه تاسې ته د ګنه ګونه جوړولو لپاره د جریمې ټیکټ درکول کیدی شي
**c)** هو، مګر تاسې باید هغه موټر یا فرد ته وخت ورکړئ چې لاهم په څلور لاره کې موجود وي

**24.** که تاسې په لویه لاره کې نارنجي ساختماني علامې او مخروطونه ووینئ، تاسې باید: (ولولئ: څپرکی **5**، علامې، اشارې، او د سړک نښې --- علامې.)

**a)** لین بدل کړئ او خپل اوسنی سرعت وساتئ
**b)** مخې ته راتلونکي کارګرانو او تجهیزاتو لپاره چمتو اوسئ
**c)** ورو شئ ځکه چې لین ختمیږي

**25.** وروسته لدې چې د قانون تنفیذ کارمندانو لخوا اړخ ته ودرول شئ، ډریور باید سمدلاسه د موټر څخه راښکته شي او په چټکۍ سره د افسر ډلګي موټر څنګ ته ورشي. (لوست: څپرکی **4**، د سړک شریک کارول – کله چې د قانون تنفیذ کارمندانو لخوا ودرول شئ څه باید وکړئ او د څه تمه باید وکړئ.)

**a)** صحیح
**b)** غلط

## د ځوابونو کلي

1. a
2. d
3. a
4. c
5. a
6. b
7. d
8. a
9. c
10. d
11. c
12. c
13. d
14. b
15. b
16. c
17. b
18. b
19. b
20. b
21. b
22. c
23. c
24. b
25. b